ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۱۹/۰۵/۲۹

# په افغانستان کې د امریکایي یرغلګر ځواکونو جنګي جرایم او د جرمونو نړیوالې محکمې رسمي تسلیمدل

د امریکا او ناټو پوځي عدالتونه په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو جنګي جرمونو څخه سترګي پټوي. وسمهال د امریکایانو د ګواښونو او بندیزونو له امله د جرمونو نړیوالې محکمې په افغانستان کې د جنګي جرایمو په اړه خپلې څېړنې او پلټنې ودرولې. د جرمونو نړیوالې محکمې دې پرېکړې د نړیوال قضایي عدالت پر تندي باندې یو تاریخي تور داغ لګیدلی دی. دا پریکړه نړیوالو ته او نړیوال عدالت د پاره یو ستر تاریخي شرم دی.

د امریکا متحده ایالاتو وسله وال پوځ ښایي په افغانستان کې جنګي جرمونه تر سره کړي وي. له دې امله د هالنډ په دنهاګ ښار کې د نړیوالې جنایي محکمې ( اي سي سي) د امریکایي سرتېرو په وړاندې ډېر جدي تورونه راپورته کړل. د جرمونو نړیوالې محکمې له ډیره اوږدې مودې راهیسې له دې ډډه کوله، څو په افغانستان کې د امریکا پر جنګي جرمونو باندې ګوته کېنږدي. په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د جنګي جرایمو لېسټ ډېر اوږد دی. په دې لېسټ کې د سیاسي بندیانو شکنجه کول، د تحقیقاتو پر مهال د پټو استخباراتي مالوماتو ترلاسه کولو په موخه د بندیانو ځورول، د غیر قانوني میتوډونو کارول، د بې ګناه افغان ملکیانو وژل، هوایي بریدونه او ړندې بمبارۍ شاملې دي. د دې سربیره بیا هم د جرمونو نړیوالې محکمې قاضیانو د ملګروملتونو د څارونکو په شتون کې د تر سره شویو جنګي جرایمو په اړه یوه ناسمه پریکړه کړي، دوی د افغانستان په جګړه کې د جنګي جرمونو په اړه خپلې هراړ خېزې څېړنې او پلټنې ودرولې .

د جرمونو نړیوالې محکمې د خپلې پرېکړې دلیل داسي ښوولي دی: د قضایي عدالت په پلې کولو کې د جنګي جرایمو تعقیبولو سره مرسته نه شي کولې، ځکه دا جرمونه ډېره موده پخوا تر سره شوي دي او د سیمې ناسمو شرایطو له کبله د جنګي جرمونو تحقیقات او پلټنې ستونزمنې دي. د دې پریکړې په بنست د هاګ نړیوالې محکمې د امریکایي وګړو د عدلي او قضایي تعقیبولو څخه لاس اخیستی دی.

دا پرېکړه د نړیوال قضایي عدالت په تاریخ کې یوه بېساري نه منوونکي او شرموونکي پېښه ده. دا پریکړه د نړیوال عدالت سره یوه ستره نه ښنوونکي تاریخي تېروتنه ده. دا پرېکړه د نړیوالې محکمې دوګونې چلند ښیي. د هاګ جرمونو نړیوالې محکمې دې پریکړې ته ټول نړیوال حقوقپوهان، حقوقي څارنوالان، د بشري حقوقو سازمانونه او مدني فعالان هک پک او حیران پاتې شوي دي.

کله چې د هاګ نړیوال محکمې بنسټ اوولس کاله وړاندې کېښودل شو. له هغمهاله دا محکمه په دې تورنیده، چې خپل ټول پام د افریقایي هیوادونو جنګي جرایمو ته اړولي دی. د لویدیځ هیوادونو جنګي جرایمو پلټنو ته زړه نه ښه کوي او سترګي پرې پټوي. دې محکمې د افغانستان او امریکا په جګړه کې یو چانس درلود، څو خپل نړیوال قضایي عدالت ناپیلتوب ثابت کړي وای. که څه هم د امریکا متحده ایالات د هاګ نړیوالې محکمې غړیتوب نه لري. خو د ۲۰۰۳ کال راهیسې افغانستان د نړیوالې محکمې غړیتوب لري. جنګي جرایمو د څېړلو لپاره همدا کفایت کوي، څو د افغانستان په خاوره کې امریکایي جنګي جرمونه وڅېړل شي. د هاګ محکمې قاضیان په خپله منلي، چې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو جنګي جرمونه خال خال شتون لري.

## د جرمونو نړیوالي محکمې مشري څارنوالي د تورونو مهم ټکي

په ۲۰۱۶ کال کې د نړیوالې محکمې مشري څارنوالې مېرمن فاتو بنسوډا لخوا یوه اعلامیه خپره شوه. په دغه اعلامیه کې راغلي وه؛ دوی به په افغانستان کې د جنګي جرمونو په تړاو پلټنې تر سره کړي. سر څارنوالې مېرمن فاتو بنسوډا دا هم ویلي وه، چې هغه به د جنګي جرمونو د څېړنې او پلټنې لپاره رسمي اجازه ترلاسه کړي او ورسره زیاتوي چې کړېدلي او ځورېدلي افغان قربانیان به قضایي عدالت تر لاسه کړي، هغي غوښتل، څو پر نړیوال کچ په ټوله نړۍ کې د تعقیبولو قانون پلی شي او هېڅوک باید تر قانون لوړ نه وي.

د نړیوالي جنایي محکمې د نړیوالو پلټونکو د اټکلونو او پلټنو په بنسټ امریکایي پوځیانو او د امریکا د استخباراتي مامورینو یا د سي اې اي اجنټانو په افغانستان کې جنګي جرایم تر سره کړي دي. د نړیوالو څارونکو، پلټونکو د پراخو پلټنو او راپورونو په بنسټ داسي ادعاوې شتون لري، چې دا جنګي جرمونه د ۲۰۰۳ کال د مي میاشتي راهیسي تر سره شوي دي. د دې پراخو جنګي جرایمو پلټنو پایلې د نړیوالي محکمې مشري څارنوالي مېرمن فاتو بنسوډا له لوری د هالند په دنهاګ کې رسماً خپارې شوي دي.

د ملګرملتونو په یوه رپوټ کې راغلي دي، چې یوازې په ۲۰۰۹ کال کې ۸۰۰۰ ملکیان په افغانستان کې بې ګناه وژلي شوي دي. په اویا ورځو کې تر یو میلیون ډیرو د جنګي جرمونوپه اړه شکایتونه ثبت شوي دي. په دې شکمنو تورونو سختدریځو طالبان، د افغان امنیتي ځواکونه، په افغانستان کې د ناتو غړو هیوادونه او د امریکا متحدو ایالاتو جنګیدونکي پوځیانو ککړ دي.

له دې کبله د تر سره شویو جنګي جرایمو پلټنو په اړه وسمهال یو مناسب، معقول او منطقي بنسټ او د باور شتون را منځ ته شوي دی. پوښتنه دا ده، چې ایا دا جنګي جرایم په ریښتیا تر سره شوي. د دې پلټنو په بنست په ډیر احتمال سره طالبان او د طالبانو ملاتړ ځواکونو په افغانستان کې د ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال تر پایه د ۱۷۰۰۰ بې ګناه وژل شویو ملکي وګړو مسوولیت پر غاړه لري. ځکه دوی ځښت ډیر بریدونه په ښوونځیو، روغتونونو او جوماتونو کې تر سره کړي دي. دا خبر د هاګ نړیوالي محکمې مشري څارنوالي مېرمن فاتوبنسوډا کړی ده. ورسره یې په لومړي ځل د نړیوالي محکمې مشري څارنوالي د امریکا متحدو ایالاتو د وسله والو ځواکونو د جنګی جرایمو رول په اړه په تفصیل سره رڼا اچولي او امریکایي سرتېرې جنګي مجرمین نومولي دي.
د جنګي جرمونو پلټنو په بنسټ لویه څارنواله مېرمن فاتوبنسوډا دې پایلې ته رسیدلي وه، چې د امریکي متحدو ایالاتو وسله والو ځواکونو د افغانستان په خاوره کي لږ تر لږه ۶۱ زندانیان شکنجه کړی. له زندایانو سره ډیر بد ناوړه چلند کړي دی او د زندانیانو د انساني کرامت او وقار څخه سر غړونې تر سره کړي دي.
په ډیر احتمال سره ډیرې پیښي د ۲۰۰۳ او ۲۰۱۴ کلونو ترمنځ د امریکایي سرتېرو او د سي ای اي مامورینو له خوا تر سره شوي دي. د دې شمېرو سر بیره لږ تر لږه ۲۷ زندانیان د سي ای اي اجنټانو لخوا شکنجه شوي دي. د محبوسینو دا شکنجې او ځورونې نه یوازې په افغانستان کې بلکې د افغانستانه د باندې د پولنډ، رومانیا او لیتوانیا هیوادونوپه پټو زندانانو کې هم تر سره شوي دي. د دې قضیو ډیرې پیښې په پاس یاد شوی موده کې تر سره شوي دي. ځینې تورونه د ورستیو کلونو پورې تر ۲۰۱۴ کال پورې هم رسیږي.
د امریکا وسله والو ځواکونو او د سي ای اي مامورینو احتمالاً د تحقیقاتو او پوښتنو دروېږنو پر مهال هغه تکتیکونه کارولي دي، چې دوی په خپلو کړنو کې جنګي جنایتونه تر سره کړي دي. دا ځورونې او شکنجې یوازې په یو څو مواردو یا پیښو کې نه دي کارولي شوي، بلکې دا د امریکایي سیاست یوه قصدي سیاسي پالیسي ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د یوولسم د سپټمبر د پېښې ورسته د بوش حکومت په لومړي ځل د تحقیقاتو او پلټنو میتوډونه، کوم چې د واټربورډینګ شکنجې کولو میتوډونو Waterbording[1] په نامه یادیږي اجازه ورکړي وه.
په ۲۰۰۹ کال کې د بارک اوباما حکومت د دې ډول شکنجې میتوډونو کارولو ودرولو امر ورکړو. ولسمشر ټرمپ په خپل ټاکنیزه کمپاین کې د زندانیانو تحقیق پر مهال د یاد شویو شکنجو کارولو میتوډونه یو مناسب میتود بللې وه.
د نړیوالې محکمې مشرې فاتو بیسوډا دا هم ویلي و: اوس د جنګي جرمونو نړیواله محکمه د پلټنو اجازې په لټه کې ده، څو په افغانستان کې د جنګي جرایمو تورونه وپلټل شي. د جنګي جرایمو څارنوالې دا هم ویلي و، د دوی سره کافي شواهد شتون لري، چې د افغانستان په جګړه کې جنګي جرمونه تر سره شوي دي. دوی د خپلو له لومړنیو څېړنو ورسته دې پایلې ته رسیدلي دي، په افغانستان کې د څېړنو پیلولو لپاره ټول لازم حقوقي منلي شوي معیارونه او شرایط پوره شوي دي.

که چیرې افغان حکومت نړیوالې محکمې ته اجازه ورکړي، نو دا نړیواله محکمه به د ۲۰۰۳ کال را ورسته د حکومت د وسله والو مخالفینو، د افغان امیتي ځواکونو، د امریکا یې ځواکونو او د سي ای اې ماموزینو له خوا د تر سره شوي جنګي جرایمو پلټنه او څېړنه تر سره کړي.

## څنګه د جرمونو نړیوالې محکمې سر څارنواله په خپلو اعلان شوو تحقیقاتو کې پاتې راغله

په ۲۰۱۷ کال کې که څه هم سرڅارنوالې د جرمونو نړیوالې محکمې څخه رسماً غوښتنه کړې وه، څو هغې ته په افغانستان کې د جنګي جرمونو او د بشریت پر ضد د جنګي جنایاتو د تورونو څېړلو اجازه ورکړل شي.

د نړیوالې محکمې سر څارنواله میرمن فاتو بنسوډا مجبوره شوه، خپله ماتې ومني

د جنګي جرمونو نړیوالې محکمې قاضیانو د اعلان شوې پریکړې له مخې، د هاګ محکمه په افغانستان کې د جنګي جرایمو په اړه هیڅ ډول پلټنې او څېړنې تر سره نه کړي. د هاګ محکمې قاضیان دې پایلې ته رسیدلي او وایې:
وسمهال د افغانستان سیاسي وضعیت د عدلیې او قضایي انټرسټ په کټه نه شي تمامیدلې. د افغانستان په اوسنیو حالاتو کې د بریالیو پلټنو او تحقیقاتو تمه نه شي کیداې. څکه د قانوني تعقیب پولې څښت ډیر محدودیتونه لري. د هاګ محکمې قاضیانو دې پریکړې د سر څارنوالې غوښتنې او هڅې تر خاورې لاندې خاورې کړې.

د هالنډ دنهاګ ښار کې د جرمونو نړیوالې محکمې د امریکایې سرتېرو او د سي ای اې استخباراتي سازمان د مامورینو په وړاندې جدي تورونه را پورته کړي دي. د جرمونو نړیوالې محکمې د رپوټ له مخې دوی په افغانستان کې بندیان شکنچه کړي او بندیان یې د ډول ډول فشارونو لاندې نیولې دي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت دغه تورونه رد وي او نه مني.

---

[1] د واټرباډینګ شکنجې میتوډونه داسې ترسره کیږي. لومړی د بندي سړی پر پوزه او خوله یو دستمال ایسبنودل یا هواریږي کیږي او بیا په دوامداره توګه د پاسه پر مخ، خوله او پوزه باندې اوبه راتویږي. قرباني سړي ته داسې یو احساس ورکول کیږي یا هغه داسې محسوسوي چې دی همدا اوس په اوبو کې غرق کیږي او زندی کیږي. او ورسته بیا انسان له څښتو ډیرو روحي او رواني ستونزو سره لاس او ګریوان وي. دا ډول شکنجه د جینوا کنوانسیون په قانون کې منع کړل شوې دي.

د جرمونو نړیوالې محکمې په خپل کې رپوټ کې د امریکا متحده ایالات تورنوي، داسې ښکاري چې د دوی د تحقیقاتي میتوډونو تګلاره د امریکا حکومت لخوا تایید شوي دي. د دې ناوړو تحقیقاتي میتوډونو موخې دا وې، څو دوی د بندیانو څخه پټه استخباراتي مالومات تر لاسه کړي.
د جرمونو نړیوالې محکمې څارنوالانو د دې جنګي جرمونو په برخه کې هراړ خیزه تحقیقات پیل کړي وه. څارنوالانو غوښتل د تر ټولو لومړي په هغو هیوادونو کې دا شکمن د جنګي جرایمو تورونه راپورته شوي دي په قانوني توګه وڅیړي او ثابته کړي. څارنوالانو د نړیوالو قوانینو په رڼا کې په قانوني توګه د پلټلو او تحقیقاتو صلاحیت لري.
دویم؛ څارنوالانو غوښتل څو د شکنجو میتوډونو په اړه وضاحت ترلاسه کړي، چې د جنګي جرمونه کچه څومره ده.
له دې ورسته دوی غوښتل پریکړه وکړي، د امریکا متحدو ایالاتو جنګي جرایم د جرمونو نړیوالې محکمې ته وړاندې کړي.
د بښنې نړیوال سازمان امنیستي انټرنیشنل هم د امریکا متحده ایالاتو نظامي عدالت او پوځي محاکم تورنوي، په افغانستان کې د امریکامتحده ایالاتو د پوځي عملیاتو په ترڅ کې زرګونه افغان بې ګناه ملکیان وژلي شوي دي. دغو محاکمو جنګي جرمونه په سمه توګه نه دي څیړلي.
له دې سره په افغانستان کې د جنګي جرمونو د معافیت یو کولتور رامنځته شوي دی. د بشري حقونو د بښنې نړیوال سازمان له مخې دوی ۱۲۵ عیني شاهدانو پوښتلي، د قربانیانو د کورنیو غړو او خپلوانو څخه پوښتنې دروېږنې تر سره کړي دي. په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو ماموریت ایساف په مهال ۹۷ هم پیښې ثبتې شوي دي. که څه هم په ډیرو مواردو کې امریکایي پوځیانو د پلټنو امر ورکړي وو، خو دوی هیڅکله هم د قربانیانو خپلوان او عیني شاهدانو څخه تحقیقات پیل نه کړل.

## د جرمونو نړیوالې محکمې ته د امریکا متحده ایالاتو ګواښونه او بندیزونه

د امریکا متحده ایالاتو حکومت د جنګی جرمونو نړیواله محکمه تر خپل سخت فشار لاندې راوستي ده .
د ۲۰۱۷ کال په نوامبر کې د جنګي جرایمو محکمې سر څارنوالې میرمن فاتو بنسوډا اعلان وکړو، په افغانستان کې د بشریت په وړاندې جنګی جرمونه، د امریکایي پوځیانو او د سي ای اې ملکي اجنټانو جنګي جرمونو پلټنې کوي. له دې اعلان سره د شمالي اتلانتیک په غاړه کې د امریکایي چارواکو سخته غوسه را وپاریدله. امریکایانو سمدستي د نړیوالې محکمې کارکونکو ته د ویزو نه ورکولو ګواښونه وکړو. څو موده ورسته امریکایي چارواکو دوی ته د امریکې د ورتګ پر ویزو رسماً بندیزونه ولګول. همدارنګه امریکایانو افغانستان ته د نړیوالې جنایي محکمې څارنوالانو ته د ورتګ اجازه هم ورنه کړه. امریکایانو په افغانستان کې د خپلو جنګي جرمونو له څیړلو او پلټنو سره سخت مخالفت وښود.

د هاګ جرمونو نړیوالې محکمې د امریکایانو د ګواښونو سره سره خپلو پلټنو ته دوام ورکړو. دې نړیوالې محکمې اعلان وکړو، چې د ګواښونو او بندیزو سره به خپل تحقیقات پر مخ بوځي او خپل سیاسي ناپیلتوب هم اعلان کړو. دا چې د متحده ایالات د نړیوالې محکمې تړون نه دی لاسلیک کړي، له دې امله د دوی سره قانوني چلند نشي کیدای. له نیکه مرغه افغانستان دغه تړون لاسلیک کړي دی. له دې سره د جرمونو نړیواله محکمه کولي شي، څو د افغانستان په خاوره کې د امریکا متحده ایالاتو پوځیانو جنګي جرمونه، کوم چې د امریکایانو له خوا ترسره شوي دي، د نړیوالو قوانینو په رڼا کې قانوني تعقیب کړي.

## د امریکا حکومت د نړیوالو بشري سازمانو تر سختو نیوکو لاندې راغلو

د اروپایي ټولنې د بهرنیو چارو ویاندې مېرمن فدریکه موګوغیني وویل، اروپایي ټولنه د امریکا حکومت د دا ډول اقداماتو په اړه ژوره اندېښنه لري. نوموړي مېرمنې د هاګ نړیوالې محکمې د پلټنو او څېړنو څخه د بشپړ ملاتړ ډاډ څرګند کړي دی.

همداراز د بښنې نړیوال سازمان امنیستي انټرنیشنل هم امریکا ته د نړیوالې محکمې د پلټونکو د ورتللو په وړاندې خنډونه جوړولو په اړه سختې نیوکې کړي دي. دوی زیاتوي چې د حکومت له لوري دا ډول بندیزونه په خپله پر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

نړیوالو سازمانو باندي يو برید دی. له دي فشارونو سره د امریکي حکومت د بشري حقونو پر کمزوري کولو باندي ټینګار کوي. په ورته وخت کي د بشري حقونو ځار سازمان هومن رایت واچ هم د امریکا حکومت پر اقداماتو باندي سختي نیوکي کړي دي. دوی وایي دا په جوته توګه يوه هڅه ده، څو د نړیوالي محکمي قاضیانو وبېرول شي، څو په افغانستان کي قربانیان ته د قضایي عدالت مخه ونیول شي.

د دي ټول نیوکو سره سره د امریکا متحده ایالاتو د جرمونو نړیوالي محکمي د کارکونکو په وړاندي بندیزونه تصویب کړل. په تیر مني کي امریکایانو د جرمونو نړیوالي محکمي په وړاندي اعلان کړل شوي ګواښونه ریښتیا کړل. د امریکي د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو ویلي: په لومړي ګام کي به د جرمونو نړیوالي محکمي پر هغو کارکونو د ویزو بندیزنه ولګول شي، کوم چي د امریکایي پوځیانو په وړاندي د جنګي جرمونو پلټني تر سره کولو هوډ لري. د امریکا بهرنیو چارو وزیر د نړیوالي محکمي څخه په جدي توګه غوښتنه کړي، چي خپل د جنګي جرمونو د پلټنو پلان بدل کړئ، ورسره زیاته کړي، د امریکا متحده ایالاتو، د امریکایي وګړو، د متحده ایالاتو پوځي متحدینو او د اسراییلو په وړاندي د هر ډول جنګي جرمونو پلټني څخه باید لاس واخیستل شئ. که نه، د نورو شدیدو اقداماتو سره به مخامخ شئ. له دي لړ موده ورسته بیا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ملګرو ملتونو په يوه غونډه کي د جرمونو نړیوالي محکمي مشروعیت رد کړ.

د امریکا متحدو ایالاتو د جنګي جرمونو نړیوالي محکمي غړیتوب یا د روم اساسنامه په دنهاګ کي نه ده لاسلیک کړي. دا شوني نه بریښي، چي د امریکا د جنګي جرمونو په څېړنو کي همکاري وکړي، ځکه امریکا نه غواړي او یوهېږي چي د دوی تورن او مجرم سرتېري او امریکایي وګړي په هغه هیوادونوکي چي دا نړیوالو جنګي جرایمو قانون پلي کیږي یا لاسلیک کړي لکه افغانستان او په پای کي کیداي شي د دوی تورن سرتېري د هاګ نړیوالي محکمي ته د جنګي جرمونو په تور ودرول شي. له دي کبله متحده ایالاتو د نړیوالي محکمي غړیتوب نه مني او د تر سره شویو جرمونو پلټنو په اړه د امریکا متحدو ایالاتو همکاري نا شوني ده.

## د امریکا پوځي عدالتي سیستم په افغانستان کي خپلو سرتېرو جنګي جرمونو ته نه پاملرنه

د ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۱۳ کلونو پوري د بښني نړیوال سازمان د رپوټ له مخي په هوایي بریدنو، د شپي چاپي یا شپنیزه عملیاتو پر مهال ۱۴۰ ملکیان وژلي شودی. په هیڅ يوه پیښه کي قضایي عدالت یا د جرمونو د څېړلو کوم اقدام نه دي تر سره شوي.
د ۲۰۰۱ کال راهیسي د امریکایي سرتیرو له خوا زرګونه افغانانو وژلي شوي او یا سخت ټپیان شوي دي. خو قربانیان او د قربانیانو خپلوان د قضایي عدالت هیڅ چانس نه دی درلودلي. کله چي خبره د شکمنو جنګي جرمونو څېړولو وشي، د امریکا نظامي عدالت او محاکم تل په کي پاتي راشي. ان که په اړه یي په ښکاره او عامه توګه جوت ثبوتونه هم شتون ولري. د امریکامتحدو ایالاتو د پوځي عدالت له خوا له پامه غوځول کیږي او سترګي پرې پټیږي او د جنګي جرمونو له مجرمینو سره حساب وکتاب نه کیږي. دغه خبره په جرمني کي د بښني نړیوال سازمان سکرترې سلمین کالیسکان کړي ده. له دي امله مېرمن کالسکان غوښتنه کوي، څو د امریکا په پوځي عدالتونو او محاکمو کي باید ژر تر ژره د ژورو ریفورمونو بدلونونه رامنځ ته شي.

## لنډیز :

کله چي پر نړیوال کچ د جګړي قانون څخه سر غړونه تر سره کیږي، پیښه باید په خپلواکه او هراړ خیزه توګه وڅېړل شي او تحقیق کړل شي. تر اوسه د جنګي جرمونو په اړه هیڅ کوم خپلواک ناپیلي تحقیقاتي چارواکی پریکړه نه ده کړي، بلکي یوازي او یوازي پوځي قوماندانو پریکړي کړي دي.
امنیستي انترنیشنل د امریکا متحده ایالاتو او افغان امنیتي چارواکو څخه پوښتنه کوي او په ټینګار سره ترینه غواړي، چي په رپوټونو کي ټول یاد شوي شکمن جنګي جنایات او قضیي باید وڅېړل شي. او بیا په ټینګار سره غوښتنه کوي، چي د موږ ټول لاسوندونه او مستندي قضیي او د نورو سازمانانو له لوري چمتو شوي مستند لاسوندونه په کومو کي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

چې افغان ملکیان وژلي شوي دي، د هغو تحقیقات باید ترسره شي. څو د جنګي جرمونو قربانیان او د هغوي د کورني غړي عدالت ترلاسه کړي. دا خبري ښاغلی بنیټ کړی ده.
امنیستي انټرنیشنل پنټاګون په افغانستان کې په دې تورنوي، چې په سیستماتیک ډول د جنګي جرایمو په اړه غږ نه وچتوي او له پامه غورځوي. دا ډول شکنجې او وژنې نه یوازې د ولسمشر بوش په اداري کې بلکې د اوباما حکومت په محال هم تر سره شوي دي. په افغانستان کې په زرګونه کورنې د خپلو ورکو، ځوریدلو، ژوبل شویو او وژل شویو بې ګناه خپلوانو او عزیزانو لپاره د عدالت پلې کولو په تمه په انتظار کې ناستې دي.
د پنټاګون ویاند د جنګي جرمونو تورنو څخه انکار نه کوي، بلکې د متحده ایالاتو د شکنجې او جنګي جرایمو سیاست یې تصدیق کړي. دغه خبره  الماني خبریال  Mai Bradlee Avots کړې ده.
په داسې حال کې چې د امریکې ولسمشر ډونالډ ټرمپ په دنهاګ کې د نړیوالې جرمونو محکمې قاضیانو پریکړه د نړیوالو قوانینو یوه بریا ګڼي، خو په افغانستان کې د بشري حقوقو فعالین څښت ډیر خواشینی کړي دي.، د جرمونو نړیواله محکمه د امریکا ګواښونه او بندیزونه ته باید تسلیمه نشي او ورسره خپله شرمونکې پریکړه بیرته واخلي.
که د جرمونو نړیواله محکمه په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو په وړاندې د جنګي جرمونو پلټنې تر سره نه کړي. په افغانستان کې به ټول جنګي مجرمین قضایي معافیت ومومي .
.

پای.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ